# د ادم زوی زما څخه انکار وکړ او هغه د دې حق نه درلود او هغه زما سپکاوی وکړ خو هغه د دې حق نه درلود

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی: هغه له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمايلي دي: «قَالَ اللَّهُ: كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، وَشَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، فَأَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ: لَنْ يُعِيدَنِي، كَمَا بَدَأَنِي، وَلَيْسَ أَوَّلُ الخَلْقِ بِأَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ إِعَادَتِهِ، وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ: اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا وَأَنَا الأَحَدُ الصَّمَدُ، لَمْ أَلِدْ وَلَمْ أُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لِي كُفْؤًا أَحَدٌ». «اللَّهُ جل جلاله فرمایلي: د ادم زوی زما څخه انکار وکړ او هغه د دې حق نه درلود او هغه زما سپکاوی وکړ خو هغه د دې حق نه درلود، زما څخه انکار د هغه دا وینا ده چې: ما به بیا را ژوندی نه کړي لکه څنګه يې چې په لومړي ځل پیدا کړی وم، حال دا چې زما لپاره هیڅ شی د هغه له بیرته راګرځولو څخه اسانه نه دی، او ماته سپکاوی دهغه دا وینا ده چې: الله تعالی زوی لري، حال دا چې زه یو او بې نیازه یم، نه مې څوک زیږولی او نه له چا زیږیدلی یم، او زما په شان هیڅوک نشته».
[صحيح] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدسي حدیث کې خبر ورکوي چې الله جل جلاله د مشرکانو او کافرانو په اړه فرمايلي چې هغوی ترې انکار کوي او په نیمګړتیاوو او عیبونو سره يې یادوي، حال دا چې دوی ته دا په کار نه وو. نو له الله څخه يې انکار دا ګمان کول دي چې الله به بیا دوی له مرګ نه وروسته پیدا نه کړي لکه څنګه يې چې په لومړي ځل له نشت څخه پیدا کړي وو، نو الله د هغوی دا خبره پدې سره رد کړه چې د هغه چا لپاره چې په لومړي ځل يې له نشت څخه پیدا کول پیل کړي دي پدې ځواکمن دی چې بیا يې پیدا کړي، بلکې دا کار ورته اسان دی، او که چېرته الله جل جلاله ته دواړه کارونه؛ پیدا کول او بېرته راګرځول اسان وي، نو بیا خو الله جل جلاله پر هر څه قادر دي. او د دوی سپکاوی دا وینا ده چې وايي: الله زوی لري، نو هغوی ته يې ځواب ورکړ چې هغه خو یو دی؛ هغه ذات دی چې په خپلو نومونو، صفتونو او افعالو کې له ټولو کمالاتو سره بې سارى دی، له هر ډول عیب او نیمګړتیا څخه پاک دی، بې نیازه دی چې هیچا ته اړتیا نه لري او هر څوک هغه ته اړتیا لري، نه د چا پلار و، نه د چا زوی و، او نه د هغه سپېڅلي ذات برابر بل څوک شته.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6327